بسم الله الرحمن الرحيم

# کپیټلېزم د کووېډ۱۹ پر وړاندې بحراني رول لوبوي

**خبر:**

ډونالډ ټرمپ د جنورۍ په پای کې د سپینې ماڼۍ یو مشاور ته خبرداری ورکړی و چې که د کرونا پر وړاندې جدي اقدامات ونه کړو، نو زموږ لپاره به یو نوی فصل پرانیزي. مانا دا چې د کرونا ویروس د دې توانایي لري چې سلګونه زره امریکایان ووژني او اقتصاد به مو هم له خپل اصلي مسیر څخه تغیر کړي. سرچینه: (ګارډین)

**تبصره:**

دوې ورځې وروسته له هغې چې په واشنګټن کې د دغه ویروس مثبت پېښې ثبت شوې، ډونالډ ټرمپ د CNBC ټلویزیون له لارې په ژوندۍ بڼه وویل: «موږ به دغه ویروس په پوره ډول کنترول کړو، دا یو سړي له چین څخه راوړی او اوس نوموړی سړی هم روغ شوی دی». د فبروري ۲۹مه نه وه رارسېدلې(٦اونۍ وروسته) چې په هېواد کې د کرونا ویروس لومړۍ پېښه ثبت شوه، نو د ټرمپ ادارې د خپلو لافو د تحقق لپاره په عملي اقداماتو لاس پورې کړ.

روغتونونو او لابراتوارونو ته په پوره ډول اجازه ورکړل شوه، تر څو په بېړه سره د کووېډ-۱۹ تشخیص وکړي. دوی له څلورو تر شپږو اونیو داسې تېرې کړې چې فکر کېدو چې مرض

له منځه تللی، لکه څنګه چې ټرمپ مخکې ګوابښ  کړی و، مګر د ناکامې رهبرۍ له امله يې ډېرې ويرانوونکې پايلې په ياد هېواد کې رامنځ ته کړې. نن په ټوله امريکا کې له ۴۰ زرو زياتې پېښې ثبت شوې دي. (سرچينه:CDC, April 10, 2020 )

د امريکا ځواب بايد د کتاب په متن کې راتلونکي نسل ته د ناورين پر وړاندې د امريکا د ناکامې هڅې په څېر درس ورکړل شي، ران کلين چې په ۲۰۱۴ ز کال کې يې د ايبولا پر وړاندې په مبارزه کې تر ټولو مخکې و، تازه يې د جورج ټاون پوهنتون کاري ټيم ته وويل: «چې د واشنګټن پېښه يوه ډېره عجيبه ناکامي ده». جېرمي کانينډېک چې له ۲۰۱۳ -۲۰۱۴ پورې يې د متحده ايالتونو په نړيوالې پراختيايي ادارې (USAID) کې د نړيوالو ناورينونو ته د امريکا له خوا د ځواب ورکولو مسوول و، دغه شپږ تېرې شوې اونۍ يې د مبارزې د دوران په نوم يادې کړې. نوموړي ګارډين ته وويل:« موږ په دغه نوي عصر کې د يو اساسي دولت او لوړې رهبرۍ په درلودو سره بيا هم د لويې ناکامۍ شاهدان يو». د نيويارک د بورس بازار له نيمايي څخه زيات په پوره ډول په دغه بحران کې رالوېدلی. د جنوري په ۳۰مه د روغتيا نړيوال سازمان نړيوال ترينګلی حالت اعلان کړ، هغه وخت ټرمپ وويل:«موږ يوازې پنځه نفر ناروغان لرو، نور هر څه په پوره ډول سم او جوړ دي».

د دوو اونيو په تېرېدو سره کله چې حالت عادي و، موږ هيله درلوده چې نيم ميليون کارکوونکي به د بې کارۍ د بيمې غوښتلو لپاره اسناد وړاندې کړي، خو له دوو اونيو وروسته د دغو کسانو شمېر ۱۰ميليونو ته لوړ شو. امريکا له يو عجيبه اقتصادي ناورين سره مخ ده چې ښايي له نړۍ څخه يې شاته پرېږدي. پوښتنه دا ده چې دوی له دغه بحران څخه د وتلو لپاره تياری لري؟ له دې څخه ښکاري چې هغه څه چې د دغه اقتصادي بحران لامل شوي، په ډېرې چټکۍ سره ټولو کپيټليسټي هېوادونو ته به

ورسېږي. خو خبره دا ده چې کانګرېس دوه ټرېلیونه ډالر د کرونا ویروس د مخنیوي او د اقتصاد د ساتلو لپاره ځانګړي کړل چې د ډېرو لپاره به اقتصادي ملاتړ شي. بد خبر دا دی چې داسې ښکاري چې که دغه ناورین د اونیو او یا میاشتو لپاره دوام وکړي، نو د هغو لپاره د پیسو لېږل ستونزمن کار دی چې هغوی همدا اوس اړ دي.

د یو ډیموکراټیک ملت د رهبر په توګه، دا یوه لویه ناکامي ده چې وایي، دا د ډیموکراسۍ مرکز دی او کپیټلیستي سیستم نړۍ ته له دې ځای څخه سرچینه اخیستې او بیا همدلته له ستونزو سره مخ شو. د کانګرېس نمایندګان په دغه ګواښ پوهېدل، مګر مخکې له دې چې د امریکا د بورس بازار دغه شان تاریخي رکود ته لاړ شي، دوی په میلیونونو ډالر او خپل سهمونه هلته خرڅ کړي وو. دوی د کووېډ ۱۹د خطرونو د مخنیوي لپاره د سناتورانو مجلسونه راوغوښتل، مګر تر څو چې دغه ویروس نه و راغلی، ټولو به ویل چې هر څه زموږ په کنترول کې دي. نیویارک ټایمز د دغو ډارنو نماینده ګانو په هکله وویل: «دوی کولای شي تغیرات راوړي، مګر دوی د خپلو ګټو په لټه کې دي او هر هغه هېواد هم دغه حالت لري چې د بشري سیستم (پانګوالي سیستم) په واسطه رهبري کېږي. کپیټلېزم خلک استثمار کړي او دیموکراسي یې خپل هوا او هوس ته پرته له قېمت څخه دلالي کوي او د دغه ټولنیوونکي ویروس په وخت کې به د خلکو لپاره ډېره لږ مرسته وکړي، پرته له دې چې له ۲-۳ سلنې د نړۍ هغه قدرت لرونکو ته به ګټه ورسوي.

پانګوال له دغې موضوع سره په دریو پړاوونو کې معامله کوي: لومړی، غوښتل یې چې دغه ویروس پټ کړي، دویم، قرنطین او لږ لږ بندیز ولګوي، دریېم دا چې پوره په کور کې پاتې شي. د دغو دریو پړاوونو په سرته رسولو سره بیا هم دوی ونه شو کولای چې ستونزه حل کړي، بلکې اقتصاد ته یې نور هم تاوان واړولو او دغه ویروس نور هم زیات شو. لکه

څنګه چې موږ يې په پانګوالي ټولنه کې وينو او غږ يې اورو دغو سترياوو او بې صبريو خلک ډېر وځورول.

سمه خبره دا ده چې د دغه ويروس پر وړاندې د الله سبحانه وتعالی د قانون له ويلو سره سم تدابير ونيسو چې ياد قانون داسې وايی چې مرض له هر ځای څخه سرچينه اخيستې او له څه شي راپيدا شوی، نو بايد ټولې سرچينې يې بندې شي تر څو د مرض اساس له منځه يووړل شي او روغ خلک په بل ښار کې چې هلته مرض نه وي، خپل کار ته دوام ورکړي او توليد وکړي.

په دې اړه په بخاري کې له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه روايت شوی، چې هغه صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**«إِذَا سَمِعْتُمْ بِالطَّاعُونِ بِأَرْضٍ فَلاَ تَدْخُلُوهَا، وَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ وَأَنْتُمْ بِهَا فَلاَ تَخْرُجُوا مِنْهَا»**

**ژباړه:** که په ځمکه کې تاسو د طاعون په مرض باندې اخته شوئ، نو هغه ځای ته مه ورځئ او که په هغه ښار کې هم دغه مرض راغی چې تاسو پکې اوسېږی، نو تاسې له دغه ښار څخه بهر مه ځئ. (بخاري)

اسلام وايي چې دغه مرض بايد په همدغه ځای کې چې راپيداشوی، همدلته له منځه ولاړ شي او د ياد ځای خلک په خپل ځای پاتې شي او له نورو ځايونو څخه خلک دغه ځای ته رانه شي، دا د شريعت خبره ده؛ ځکه تر اوسه پورې صحيح او پرځای پاتې ده.

سمه پروسه چې په یاده سیمه کې له دغه ټولنیوونکي مرض مخنیوی وکړي، دا ده چې پر مرض اخته کسان باید قرنطین شي او پرته له لګښت څخه د ډاکټر تر پاملرنه لاندې وساتل شي، روغ کسان باید خپل کار ته ادامه ورکړي او ټولنیز او اقتصادي ژوند به هم ادامه پیداکړي، داسې نه لکه نن یې چې ټول بشري ژوند یې فلج کړی دی، تر څو بحران لاپسې ډېر او نورې ستونزې هم راولاړې کړي.

## د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته

## د محمد عادل له خوا

## ۱۴۴۱ هـ .ق کال، د شعبان۲۲مه

## ۲۰۲۰ م کال، د اپرېل ۱۵مه

